## ګټه

هر هغه څه چې پر عين مرتب کېږي.  دری: [منفعت]

## ګټه اخستل

له مجني عليه څخه ګټه ترلاسه کول، د ګمارلو، پلورلو، پيرودلو، په جنسي فعاليتونو د ګمارلو له لارې د انسان تښتول يا قاچاق.  دری: [بهره برداری]

## ګټه لرونکی شاهد

هغه شاهد دی چې د شهادت وړ قضيه کې يوه مادي يا غير مادي ګټه ولري.  دری:[شاهد ذينفع]

## ګدام

هغه تثبيت شوی محل (ځای) چې د ګمرکي ساحاتو او يا له هغو څخه بهر د مالونو د ځای په ځای کولو او د هغو د زېرمې په منظور د قانون له حکمونو سره سم د ګمرکاتو د ادارې له خوا جوړ او تر کنترول لاندې وي.
دری: [گدام]

## ګدام دار

هغه حقيقي شخص دی چې د قانون له حکمونو سره سم د ګدام مسوولیت لري. (ګدام ته دې مراجعه وشي).
دری:[گدام دار]

## ګډه خطاء

هغه خطاء ده چې مجنی علیه د ضرر په منځ ته راوړو د جاني سره شریک وي.  دری: [خطاء مشترک]

## ګرځنده استازی

هغه شخص دی چې د سوداګر د تجارتي فعاليتونو لپاره د اعلان، لیک، متحد المال او یا نورو سندونو په اساس د مجازو فعالیتونو د ترسره کولو په منظور په یوه بل ځای کې و ګمارل شي، سيار يا ګرځنده استازی پېژندل کيږي.  دری: [نماینده سیار]

## ګرځنده محکمې

هغه محکمې چې دايمي مقر ونلري، بلکې قضيوته د حل او رسيدلو په خاطر يې د انتقال امکان له يوې سيمې څخه بلې سيمې ته موجود وي.  دری:[محاکم سیار]

## ګرو ورکوونکی مديون

هغه شخص چې د يوه مالي حق د لاس ته راوړلو په بدل کې خپل مال (عين) مقابل لوري (ګرو ورکوونکی داين) ته ګرووي.  دری: [مديون رهن دهنده]

## ګرول

په سند يا ليک کې د يوې کلمې د يوې برخې د منځه وړل او محوه ده.  دری: [خراشيدن]

## ګذشت

له عفوې، بخښنې او د دعوې څخه له تېرېدلو څخه عبارت دی.  دری:[گذشت]

## ګزمه

هغه ساتونکی او محافظ دی چې د شپې له خوا په ګرځېدو راګرځېدو سره په ښار او نورو سيمو کې د امنيت دنده په غاړه لري.  دری:[گزمه]

## ګمرك

هغه دولتي اداره ده چې صادراتي، وارداتي، ترانزيتي مالونه، د مسافرينو او مؤظفينو محموله او پستي پارسلونه د قانون له حکمونو سره سم اجرا او کنترولوي.
دری:[گمرک]

## ګمرکي بېرته ورکړه

د بشپړ يا قسمي ورکړل شوي ګمرکي دين بېرته ورکول دي.  دری:[باز پرداخت گمرکی]

## ګمرکي تعرفه

هغه رسمي سند دی چې د مالونو صادراتي او وارداتي محصول د هغه د طبقه بندۍ پر بنسټ د ګمرکي تقنيني اسنادو له مخې ټاکل کیږي. دری:[تعرفه ګمرکی]

## ګمرکي خصوصي ګدام

هغه ګدام چې يوازې د مالونو د مالک د ګټې اخيستنې په منظور د هغه له لوري د قانون له حکمونو سره سم جوړېدای شي. دری:[ګدام خصوصی ګمرکی]

## ګمرکي رسمي ګدام

هغه ګدام چې له قانون سره سم د اړوندو مراجعو د ځانګړو موخو لپاره جوړيږي.
دری:[ګدام رسمی ګمرکی]

## ګمرکي ساحې

هغه تثبيت شوې ساحې دي چې د يو معين هېواد په ګمرکي قلمرو کې شامل او د ګمرکي فعاليتونو په منظور جوړيدای شي. دری:[ساحات ګمرکی]

## ګمرکي عمومي ګدام

هغه ګدام دی چې د مالونو د ټولو صادروونکو او واردوونکو د ګټې اخيستنې په منظور د اشخاصو له خوا جوړيږي. دری:[ګدام عمومی ګمرکی]

## ګمرکي قلمرو

د يو هېواد په ګمرکي قلمرو کې د ځمکې، د اوبو او فضا ساحو ته وايي دری:[قلمرو ګمرکی]

## ګمرکي کميشن کاري

ګمرکي کميشنکاري غير دولتي شغل دی چې شخص کولای شي، د جواز له اخيستلو وروسته د قانون له حکمونو سره سم يې سرته و رسوي.
دری:[تیم بررسی ګمرکی]

## ګمرکی اظهارليک

هغه سند دی چې پر بنسټ يې شخص تر ګمرکي ټاکلې پروسې يا موقف لاندې د مالونو ايښودلو لپاره خپله غوښتنه بيانوي. دری:[اظهارنامه ګمرکی]

## ګُنګ

هغه څوک چې نشي کولای په خپله ژبه تکلم وکړي.
دری: [ګنګ]

## ګنګستر

د حرفوي جنايتکارانو د ډلې غړی دی چې له نورو جنايتکارو افرادو سره د ملګرتيا له مخې د پيسو د پيدا کولو او ګټې ترلاسه کولو په موخه د جرمي اعمالو په ارتکاب لاس پورې کوي. دری:[ګنګستر]

## ګوت پيژندنه

له هغه علم څخه عبارت ده چې د ګوتو خطونه او نقشو نه طبقه بندي کوي او د اشخاصو د هويت او د مجرمينو د کشفولو لپاره پکار اچول کيږي.
دری: [انګشت شناسی]

## ګوند

هغه سياسي ارګان دی چې د قانون له حکمونو سره سم تاسيس شوی وي خلکو يې په داوطلبانه توګه غړيتوب ترلاسه کړي وي او ګډې موخې يا موخوته د رسېدو لپاره فعاليت کوي. دری: [حزب]